پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۵/۲۶

# د پوهې يوه ډېوه غلې شوه

## د پوهاند مير حسين شاه مړينه



اکادميسين کانديد پوهاند ميرحسين شاه

په خواشينی سره مې خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان د علمي او پوهنتوني کورنی ډېر زړه سواندی، پوه او د علمي تاريخي کارونو د ترسره کولو نوميالی پوهاند اکاديمسين کانديد استاد مير حسين شاه خان په ابدي سفر روان شو.

استاد پوهاند مير حسين شاه خان د دوه زره شلم (۲۰۲۰ ام) کال د مې پر پنځه ويشتمه (۲۵ مه) په امريکا کې وفات شوی دی.

روح يې ښاد او ياد يې تلپاتې!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

نن سهار (۲۰۲۰/۰۵/۲۶) مې کله چې د استاد شاه مح-مود محمود په فیسبوکپاڼه کې د پوهې د دې ستې د مړینې خبر ولوست، نو دا توري مې ورته ولیکل:

«د اکادیمسین کاندید پوهاند میرحسین شاه مړینې ډېر ودردولم. د استاد مړینه د افغانستان پوهنتوني او علمي لويې کورنۍ ته ډېره دردونکې ده.

د اکادیمسین کاندید پوهاند میرحسین شاه تشه به د افغانستان په علمي او تحقیقي کړیو کې تر ډېرو پورې ډکه نه شي.

زه د افغانستان د پوهنتوني او علمي کورنۍ د یو وړوکي غړي په توګه د استاد د نه شتون ویر، خپل ویر ګڼم. د استاد کورنۍ ته، د افغانستان پوهنتوني او علمي کړیو ته، استاد محمود ته، ټولو شاګردانو او مینوالو ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کوم، هغه ته جنتونه او ټولو ته د لوی زغم او صبر هیله کوم.»

استاد پوهاند میرحسین شاه د پوهاندی کلمې په رېښتینې مانا سره یوه پوه، پر وطن او خلکو باندې د یو رېښتیني پلار په څېر مهربانه استاد او عالم و. پوهاند میرحسین شاه د خپل فرهنګي ژوند ټوله برخه د یوه ودان او ښېرازه افغانستان او د یوې نیکمرغې ټولنې د جوړېدو په پار ځانګړې کړې وه.

د ۲۰۱۵ ام کال په نومبر کې مې د استاد پوهاند میر حسین شاه د نویمې کلیزې په مناسبت د «یوه کلیزه، دوې خاطرې» ترسرلیکلاندې مقاله ولیکله او په تاند او افغان جرمن پورتال کې مې خپره کړه چې د دې لیکنې په پای کې به یې یو ځل بیا د استاد علمي دریځ ته د درناوي په پار خپره کړم.

پوهاند میر حسین شاه د افغانستان د پوهنتوني او علمي کړیو په سرلارو کې یو علمي شخصیت، پرته له سیاسي، ژبنیو، سمتي او نورو ملحوظاتو څخه یې؛ تل د علم ـ حق او حقیقت پلوي کوله او د یو ښېرازه او پرمختللي افغانستان په پار یې د نوي نسل له روزلو سره ډېره مینه درلوده. ده تل د یوه ښونکي او ښه اداره چي په دریځ کې هڅه کوله چې مستعد ځوانان د لوړو زدکړو له پاره بهر ته ولېږي چې له هغې خوا د پوهې او نوې ټکنالوژۍ په ګټه سمبال بېرته خپلو خلکو او هېواد ته راستانه شي، استاد نورمحمد غمجن تمیل یې ښه بېلګه وه. استاد غمجن د ده په مرسته او لارښوونه هندوستان ته ولاړ او د ماسترۍ ډیپلوم یې ترلاسه کړ او بېرته وطن ته راستون شو او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې یې د حساب وړ استاد په توګه دنده پیل کړه.

پوهاند میرحسین شاه د ۱۳۰۳ ام کال د مرغومي میاشت پر دریمه نېټه (د ۱۹۲۵ میلادي کال د جنورۍ شپږمه) په کندهار کې د میر عبدالجواد اغا په کاله کې وزېږېد. لومړنۍ او منځنۍ زدکړې یې په کندهار کې پایته ورسولې، لیسه یې په کندهار کې پیل، خو د لیسې د فراغت سند یې په کابل کې د حبیبیې لیسې څخه تر لاسه کړ.

د لیسانس سند یې د کابل پوهنتون له ادبیاتو پوهنځي څخه واخیست او د ماسترۍ زدکړې یې په هند کې پایته ورسولې.

د اکادیمسین کاندید پوهاند میرحسین شاه ټول عمر د ښونکي دنده ترسره کړه، په عملي ډول په ټولګي کې ودرېد او خپله ټوله علمي پانګه یې، پرته له توپیر څخه د وطن پر نوي نسل باندې وویشله.

شپاړس مستقل علمي آثار او ګنشمېر مقالې یې په هېواد کې دننه او له هېواد څخه د باندې چاپ شوي دي، په لسګونو علمي سیمینارونو او غونډو کې ګډون کړی دی.

پوهاند میر حسین شاه ښایي د هغو لومړنیو څېړنوکو په ډله کې لومړنی څېړونکی وي چې د خوشال په دستارنامه یې د راغلو فارسي شعرونو په باب څېړنه راپیل کړې چې دا شعرونه د کوم شاعر دي. د استاد معصوم هوتک د وینا پر استناد، استاد میرحسین شاه د خوشال په دستار نامه کې د راغلو فارسي شعرونو د دیرش سلنه شعرونو شاعران مالوم کړي دي. خو ورځې مخکې ما د (د خوشال پوهنې پر لار یو بل بریالی ګام) ترسرلیک لاندې مقاله خپره کړه، هلته ما د پوهاند صاحب میرحسین شاه د
هڅو په باب داسې لیکلي دي:

«د خوشال د دستارنامې د فارسي کلام د پېتو یا ماخذونو مالومول استاد پوهاند میر حسین شاه راپیل کړی و، یو څه زاهد مشواڼي ورپسې وڅېړل، خو د غوټې ډېره برخه استاد هوتک سپړلې ده...»

استاد هوتک د همدې اثر (د خوشحال خان ختک په دستارنامه کې فارسي کلام د چا دئ؟) د پیل په خبرو کې دې څېړنو اشاره کړې ده چې په یوه برخه کې یې داسې راغلي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«په دستارنامه کې د فارسي کلام زیات و کم ۱۴۷ ځایه ما شمېرلي دي. په دې کې پوهاند میر حسین شاه درو ځلوېښت مورده ښېرلي دي چې په دې حساب ئې د دستارنامې د فارسي کلام څه کم دېرش فیصده ماخذونه موږ ته راښوولي دي. ښاغلي زاهد مشواني دو شپېته شعرونه ښېرلي دي چې دي کې د پوهاند میر حسین شاه ۴۳ ځایه هم شامل دي. په دې ډول ئې د دستارنامې د فارسي کلام د ماخذو په ښوولو کي نولس ځایه نور ورزیات کړل او فیصدي ئې نژدې ۴۳٪ ته لوړه کړه ...»

په دې ډول لیدل کېږي چې استاد پوهاند میرحسین شاه زموږ د فرهنګ، ادب او تاریخ ډېرې ناسپړلي غوټې پرانستې دي او د خپلو څېړنو پایله یې ټل د خپلو عالمانه لکچرونو او لیکنو له لارې له خپلو شاګردانو، همکارانو او ټولو خلکو سره شریکي کړې دي.

پوهاند میر حسین شاه ښه استاد، ځیرک څېرونکی، دقیق ژباړن او د وخت د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې د منځنیو پیړیو د تاریخ په تدریس کې غښته ستنه او د اعتبار وړ آدرس و او په علمي دوایرو کې ښه اداره چې ثابت شوی دی.

څنګه چې پاس یادونه وشوه ما (اصف بهاند) د ۲۰۱۵ ام کال په نومبر کې د استاد پوهاند میر حسین شاه د نویمې کلیزې په مناسبت د «یوه کلیزه، دوې خاطرې» ترسرلیکلاندې مقاله ولیکله او همغه وخت کې مې خپره کړه، بیا مې کله چې د دوه زره شلم کال په اپریل میاشت کې د «ژوندي یادونه» په نامه خپل یو اثر (د ژوندیو فرهنګیانو او قلموالو په باب زما د مقالو ټولګه) په افغان جرمن آنلاین پورتال کې انلاین کړ، په هغه اثر کې لومړنۍ مقاله د استاد پوهاند میرحسین شاه د نویمې کلیزې په باب زما همدا مقاله راغلې ده. دلته بې مناسبته نه وي چې د استاد پوهاند میر حسین شاه علمي شخصیت ته د لا درناوي په پار د هغې مقالې یوه برخه راواخلم:

## استاد پوهاند میرحسین شاه خان:

## یوه کلیزه، دوې خاطرې،

### د استاد پوهاند میرحسین شاه خان نویمه کلیزه

د لمانځلو او یادولو په برخه کې پخوا داسې دود و چې یوازې به د مړو لیکوالو، شاعرانو، استادانو، مشاهیرو او قلموالو له پاره غونډې جوړېدې، بیا د ځینو فرهنګیانو په نوښت، د اوبایمي لسیزې په وروستیو کې داسې هم وشول چې د ژوندیو لمانځل او درناوی هم د یوه بدعت په ډول پیل شو. ښایي په کابل پوهنتون کې د استاد رشاد د اویایمي کلیزې جوړول او لمانځل یې یوه غوره بیلګه وي.

او دا دی اوس د نورو ژوندیو فرهنګي شخصیتونو د لمانځلو په لړ کې بیا هم په کابل پوهنتون کې د دانشمند استاد پوهاند میر حسین شاه نوویمه بختوره کلیزه، د ده د علمي لارې د ځیناستو، شاګردانو، ارادتمندانو او لارویانو له خوا د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۲۱مه نیټه ولمانځل شوه.

پوهاند میر حسین شاه ښه استاد، ځیرک څېرونکی، دقیق ژباړن او د وخت د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې د منځنیو پیړیو د تاریخ په تدریس کې غښته ستنه او د اعتبار وړ آدرس و او په علمي دوایرو کې ښه اداره چې ثابت شوی دی.

که چیرې د پوهاند میر حسین شاه اکادیمیک ژوند او اداري کار په دقیق ډول مطالعه شي، لیدل کېږي چې کومه وظیفه چې د خلکو، ټولنې او وطن له خوا ده ته سپارل شوې وه، هغه یې په عالمانه، صادقانه او رښتینې توګه د خپل تدریس، څېړنې، تالیف، ژباړې او اداري کار په ترڅ کې د یوه زړه سواندي استاد په توګه تر سره کړې ده.

زه مخامخ د شاګرد په توګه کله د استاد پوهاند میرحسین شاه لکچر ته په ټولګي کې نه یم ناست، خو په هغو کسانو کې شمېرل کېږم چې د ده له لیکلو علمي آثارو نه مې ډېره استفاده کړې ده او په سیمینارونو او کنفرانسونو کې یې لکچرونو ته ناست یم.

دا مې له خپلو استادانو نه چې د ده مستقیم شاګردان وو، اوریدلي دي چې دی یو زړه سواندی عالم استاد و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهاند میر حسین شاه ته د چا ژبه، ولایت، قوم، مذهب او نور تعلقات اصلاً مطرح او مهم نه وو، یوازینی شی چي ده به په نظر کي نیول هغه د شاګر استعداد و، په هر چا کي به یې چي ډیر لږ استعداد هم وموند، هغه به یې کار ته او لوړو زدکړو ته او د علم لاس ته راوړلو ته هڅاوه.

یوه ډیره ښه بیلګه یې د کابل پوهنتون استاد نورمحمد غمجن و. کله چي استاد غمجن موږ ته د لیسانس په دوره کي د حمید منتخبات او د روښانیانو د دوري متون تشریح کول، داسي به مستند او په داډ سره غږیده لکه له هماغه ځای او پیښي نه چي راغلی وي.

نورمحمد غمجن تمیل د لغمان نه راغلی یو ساده بې کسه، بې واسطي زلمی و چي پوهاند میر حسین شاه خان هیڅ ډول سمتي، قومي، مذهبي تعلقات نه ورسره درلودل. حتی د دوی مورنی ژبه لا یوه نه وه، نورمحمد غمجن په قوم پشه اي او مورنی ژبه یې هم پشه اي وه او استاد میر حسین شاه له کندهاره راغلی و.
دا د استاد صابر خویشکي د خولي خبره ده: «کله چي استاد پوهاند میر حسین شاه د نورمحمد غمجن استعداد، له علم سره مینه او زحمت ته وکتل، هغه یې هندوستان ته د لوړو زدکړو له پاره ولیږه.»

د همدې زدکړو په پایله کي هغه استعداد چي پوهاند میر حسین شاه په هغه کي لیدلی و، غوټی یې وکړې، وغوړید او غمجن زدکړې پای ته ورسولې. کله چي غمجن له لوړو زدکړو راستون شو، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي په علمي کدر کي جذب شو او داسي استاد او څیړونکی ور نه جوړ شو چي کم ساری و.

د استاد پوهاند میر حسین شاه د علمي دریځ یوه بله خاطره چي شخصاً په ما پورې اړه لري او هیڅکله به مي هیره هم نه شي، د پوهنیاری علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره زما د علمي ترفیع له پاره زما پر وړاندې شوې اثر باندې د کابل پوهنتون په علمي شورا کي د پوهاند میر حسین شاه علمي دریځ و.

کله چي زه د ۱۳۶۰کال په ژمي کي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کي ومنل شوم، تر هغه وخته پورې مي له استاد پوهاند میر حسین شاه خان سره مخامخ پیژندګلوی لا نه وه شوې، خو د نه پیژندني په نړۍ کي یې زما د یوه علمي اثر په برخه کي یو عالمانه او دلسوزانه برخورد کړی و چي تر اوسه یې هم زه د علمي احسان پوروړی یم.

د ۱۳۶۴ کال په نیمایي کي ما د پوهنیاری علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره خپل علمي اثر(شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره) د استاد پوهندوی جلالدین کونړي تر لارښووني لاندې بشپړ کړ.

د کابل پوهنتون له علمي مقرراتو سره سم زما لیکلی تحقیقي اثر د څانګي له علمي مجلس نه وروسته د پوهنځي علمي شورا ته او بیا له هغه ځای نه د پوهنتون علمي شورا ته ولیږل شو.

د کابل پوهنتون په علمي شورا کي زما پرعلمي اثر باندې د بحث په لړ کي ځینو ښاغلو زما له علمي اثر سره چي اصلاً یې له مسلک سره د یوه خلي په اندازه ارتباط هم نه درلود، مخالفت کړی و. مخکي له رای اخستلو نه پوهاند صاحب میر حسین شاه خان هغو ښاغلو ته په خطاب کي ویلي وو:

«پرته له شکه چي هر اثر د ښیګڼو تر څنګ خپلي نیمګړتیاوې هم لري چي دا تر بحث لاندې اثر هم له هغو مستثنی نه دی، خو په همدې تیره غونډه کي مو داسي یوه اثر ته د پوهندویي ترفیع منظوره کړه چي له تر بحث لاندې اثر نه څو ځلي ضعیف ارزیابي کیدای شو، ولي دا اثر چي نیمګړتیاوې یې تر هغه اثر لږې او ناچیزه دي، د پوهنیاری مستحق نه ګڼئ؟»

د پوهاند صاحب میر حسین شاه خان دا علمي زړه سوی او روا داري نه یوازې پر ما، بلکي د وطن په ډیرو بچیانو باندې شوې ده.

د استاد پوهاند میر حسین شاه خان نویمه کلیزه دي بختوره وي. زه د استاد د علمي لارې د یوه لاروي او ارادتمند په توګه له ټولو هغو ښاغلو نه چي د داسي یوه علمي شخصیت د یادوني او کلیزې د لمانځلو تکل او هڅه یې کړې ده، د زړه له کومي مننه کوم او استاد پوهاند میر حسین شاه خان ته اوږد پُر ثمره ژوند غواړم او هیله کوم چي د ژوندیو حقداره پوهانو او فرهنګیانو د لمانځلو دود عام شي...

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ